# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| گزارشها | Reports |
| --- | --- |



ليکوال: نظرمحمد مطمئن


۰۵ فبروری ۲۰۱۵

## د ننگرهار پوهنتون ليليه محصلينو باندي مې زړه وسوځيدی

۲۲ کاله مخکي د ننگرهار اسلامي پوهنتون ته ورغلم، هغه وخت چې د ډاکتر نجيب کمونسټ* پلوه حکومت ختم شو، مجاهدين ولايتونو او کابل ته ننوتل.

موږ د کانکور ازمويني د کارټونو ترلاسه کولو له پاره هلته تللي ؤ، همهلته محصلين شولو، يوه منظمه ليليه، منظم سيستم او فعال د محصلينو د ليليې بلاکونه د کمونستي دولت څخه مجاهدينو ته پاتي ؤ.

په ليليه کي محصلينو ته د برېښنا پوره اسانتيا وه، د ډوډۍ له پاره ښه لوی او نسبتا پاک خوړنتون موجود ؤ، مسجد نه ؤ د طعام خوری يوه برخه يې د مسجد له پاره بېله کړل شوې وه.

د اوبو سيستم پکي ښه منظم او سم کار کاوٌ. تشنابونه يې د کارولو وړ او سم ؤ.

په هره کوټه کي له ۳-۵ محصلين اوسيدل، تر ۵ زيات کسان به په ځينو کوټو کي وه، چې هيڅ کوټه کي بيا تر ۶ محصلين زيات نه ؤ. د هر بلاک په سر کي يوه لويه کوټه وه، چې دوه اتاقه سره يوځای شوي ؤ هلته پکي د ۱۰ – ۱۲ محصلين اوسيدل.

د تدريسي له پاره صنفونه هم د هغه وخت سره ښه مناسب ؤ، کومه د پام وړ ستونزه پکي نه ليدل کيدله، يواځی ځيني صنفونه چې هغه هم ډير لږ ؤ تياره ؤ، هرې پوهنځی خپل ځانگړی د تدريسي ځای درلود.

په ليليه کي هم محصلين گډ وډ اوسېدل، په ځينو اتاقونو کي د مختلفو پوهنځيو محصلين په خپله خوښه يوځای اوسيدل او په ځينو کي بيا د يوې پوهنځی محصلين په خپله خوښه اوسېدل. البته د لوړو صنفونو محصلينو ته د اتاقونو په انتخاب کي ډيره په کمه اندازه اختيار ؤ او د هغوئ د خوښي اتاقونه ورکول کيدل.

هر اتاق کي هر محصل ته چپرکټ، يو ښه نوی او د ښه کيفيت لرونکی اسپنجي توشک، بالښت، نوي او پاکه کمپله، او هر اتاق ته کوټ بند او ځيني نور ضروري مواد ورکول کيدل.

چپرکټونو داسي ؤ چې دوه منزله ؤ، او په اتاق کي درې داني چپرکټونه اېښودل شوي ؤ چې هر چپرکټ کي دوه نفره اوسېدل.

په ليليه کي د اتاقونو رنگ، د دراوزو رنگ بيخي د کذاري او سم ؤ، او د ليليه اتاقونو دروازي هم جوړي وي. دا ډول کړکيو ته ورروسته نوي شيشي هغه چې ماتي شوي وي هم ورته نصب شوی.

په ټوله کې د لیلیې له سیستم څخه محصلین خوشاله ؤ، د سهار او ماخستن لمانځه وختونو کې به کله ناکله مولوی شریف صاحب هم په اتاقونو ګرځیدی چې کوم محصلین به له جومات څخه پاتې ؤ، بیا به یې هغوئ ته ویل چې لمانځه ته په خپل وخت ورشي. ځینې نور اصلاحي پروګرامونه هم د پوهنتون په دننه کې ؤ.

د ډوډۍ غټه ستونزه وه، په هغه وخت کې د ډیرو ولایتونو والیانو او ولایتي ادارو د مرکز کابل اطاعت نه کاؤ، له همدې امله پوهنتون له اقتصادي ستونزو سره مخ ؤ، د ډوډۍ کیفیت فوق العاده خراب ؤ، داسي هم شوې چې په یوه مکمل سمیسټر (۴ میاشتې او ۱۵ ورځو) کې محصلینو ته غوښه نه ده ورکول شوې، له اوبو ډکه لوبیا او کچالو ډیر پخېدل، غرمه مهال به بې کیفیته وریجې پخې شوې وې، ځینې محصلینو ته د معدې مرضونه هم پیدا شول، او ځینې محصلین چې اقتصاد به یې ښه ؤ هغوئ به په خپلو اتاقونو کې کتغ ځآنته پخاوی، خو دا ډیر کم ؤ.

درسونه پکې ډیر ښه ؤ، محصلینو هم کوشش کاوی او استادانو هم ورسره ډیره زحمت کاؤ. محصلین هم په ټوله کې غریب او استادان بیا تر محصلینو غریب ؤ. استادانو به د پوهنتون اړوند یوه ټوټه ځمکه کرله او خپله به یې په بېل اړوله، د همدې ځمکې څخه به ځینو سبزې ترلاسه کول او ځینو به غوا یا میږ ته پرې واښه کرل.

استادان مجبور ؤ چې د سبا ورځې لکچر له پاره درس په غور وګوري، ځکه محصلین ډیر تکړه ؤ، داسي ژوري پوښتنې به یې کولي چې استادان به کله ناکله ورته تعجب شول، او زما ښه په یاد دي، زموږ د صنف اول نمره یوه استاد له پوښتنو کولو څخه منع کړی ؤ، ورته یې وویل چې ته پوښتنې مه کوه، ځکه زه یې ځوابولای نه شم، او ته ډیر پوهیږې.

د استادانو معاشونه ډیر زیات کم ؤ، چې په هیڅ ډول د پوهنتون استاد د معاش سره نه شي مقایسه کیدای، مګر پرته له دې چې هغوئ ځوک ؤ د کومې عقیدې لرونکې ؤ، په ډیر شوق او مسؤلیت سره یې محصلینو ته ښه درس ورکاؤ.

د جمعې ورځ وه ۳۰ جنوري ۲۰۱۵، نږدې لس بجې وې موږ څو پخواني محصلین ملګري د ننګرهار اسلامي پوهنتون ته ورغلو، د محصلینو ژمنۍ رخصتي وه، یواځې ډیر لږ هغه محصلین چې په ځینو مضامینو کې په ازموینه کې پاتې شوې ؤ او هغه محصلین چې د واورو او سختو لارو له امله په شمال کې خپلو کورونو ته نه شوای تللای همدلته لیدل کیدل.

زه تیر کال هم یوځل د ننګرهار پوهنتون ته د محصلینو په یوه کانفرانس کې د ګډون له پاره ورغلی وم، په پوهنتون کې د ګرځیدو چانس مې ونه درلود.

داخل د همدې له پاره ننګرهار پوهنتون ته ورغلو چې هلته پکې وګرځو، یو محصل د اتاق د باندې د برنډې په نرې دیوال باندې ناست، د بلاک شا لوری ؤ، یوه پینه یې د برنډې دننه او بله یې د باندې ځړیدله، کاغذونه (چپټر) یې په لاس کې ؤ. وروسته دوه شول اوهلته ناست ؤ.

 

د لیلیه بلاکونو د تشنابونو د باندي لوری ډیر په بد حالت کې لیدل کیدی، نوي پلاستیکي پایپونه ورڅخه راوتلي ؤ، داسي معلومیدله چې د بندیدو له امله یې غیرتخنیکي نوي پایپ کاري پکې شوې ده.

 

 

د لیلیه اتاقونو هغه پخوانۍ زړې دروازې نور له ترمیم څخه وتلي ښکاریدلي، دومره خرابې شوې وي، چې اصلا نور نو د استعمال او کارولو وړ نه ښکاریدي، د ځینو اتاقونو دروازې سرې، د ځینو شنې او د محصلینو خپله خوښه چې هر ډول رنګ یې ورته انتخاب کړی ؤ چې ډیرې بدې ښکاریدلي. دا ډول د ځینو دراوزو د پلو (د لرګۍ تخته) پر ځای اوسپنیز چادرونه محصلینو پرې ټک وهلي ؤ.









د اتاقونو او دهلیزونه همغه پخوانی رانګ ؤ چي ۲۲ کالونه مخکي ما لیدلي ؤ، او دغه رنګ تر موږ هم مخکي همدي بلاکونو ته ورکول شوي ؤ. مګر سړی ویلای شي چي پخوا خلکو دومره خیانت نه کاؤ لکه اوسني خلک، ځکه خو هغه رنګ دومره باکیفیته ؤ چي لا هم تر اوسه پاتي ؤ. اوس خو یو ژمی چي په دولتي ودانۍ تیر شي، بل ژمي ته یي رنګ نه وي پاتي او د سړکونو د موټرونو د ببلوالي رنګینه کرښه خو په کال کي څو ځله قرارداد کیږي.




موږ يو اتاق ته ورننوتلو، هلته پکي يو تن د فارياب، بل يې د بادغيس او دريم يې د غور ولايت اوسيدونکی ؤ، زښت زيات شکايت يې درلود، ويې ويل چې موږ په همدې لوی اتاق کې ۱۸ تنه اوسيږو، د اتاق په منځ کې يې نرۍ د کارتن لرګيني تختې درولې وې، او دغه لوی اتاق يې په دوو برخو ويشلی ؤ.




زه يو بل اتاق ته ورغلم، د زراعت پوهنځي محصلين ؤ، هغوئ وويل چې په دې کوچنيو اتاقونو کې ۸ او ۹ تنه محصلين اوسيږي، په رښتيا هم په هغه کوچنيو اتاقونو کې د دومره کسانو يوځای اوسيدل ډير ستونزمن ښکاريدل.

ليليه هم يواځې نويو جذب شوو محصلينو ته ورکول کيږي، د لوړو صنفونو محصلينو ته له دې امله ليليه نه ورکوي چې هغوئ بيا لاريونونه کوي، او د ننګرهار اسلامي پوهنتون محصلين د دولت د ځينو چارواکو له خوا په ډول ډول نومونو متهم شوي. رښتيا هم چې دوه کاله وړاندې ننګرهار پوهنتون محصلينو ډير ځله د بهرنيانو او چارواکو ضد مظاهرې کړې، مګر دوه کلونه کيږي چې دغه نوی سيستم چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا پلې شوی او د لوړو ټولګيو محصلينو ته ليليه کې ځای نه ورکول کيږي، د ننګرهار پوهنتون نوی محصلين چې بلد نه وي، د پوهنتون د اداري له خوا د اخراج ويره لري، لاريونونه کم شوي، مګر بيا هم په ځينو مهمو قضايو کې يې خپله غوسه ښودلې.

د پخوانيو ليليه بلاکونو اتاقونه دومره خراب چې د اوسيدو له پاره مناسب نه ؤ، تشنابونه خو يې داسې ؤ چې تر دې يې تړلې او قلف کړی وای ښه ؤ.





له یوه دنیا چرتونو سره د محصلینو له اتاق څخه د باندی راووتلم، هغه نړیوالي مرستي چي د ټولي دنیا ورځپاڼي، ټلویزونونه او راډیو ګاني يي يادوي چيرته ولاړي؟ هغه له بهر نه راغلي ډاکټران، ماسټران، او ليسانس روشنفکران چيرته ؤ چي په دې ۱۳ کلونو کي يي د ننګرهار پوهنتون د محصلينو ليليي ترميم ته پام نه شو.

هغه رئيس چي ويل يي د ننګرهار اسلامي پوهنتون څخه دي د (اسلامي) ټکی ليری شي دهغه ولي د ليليي ترميم ته پام نه شو؟

د لوړو زده کړو جنابان پخوانی وزيران او معينان چي جلال آباد ته د ماهيانو خوړو مېلو ته تلل، ولي يي يوه ورځ فکر نه شول چي د محصلينو ليليه ترميم کړي؟

هغه والي چي هره شپه به يي په قصر کي نجوني او هلوکان نڅېدل، هغه چي هره شپه به يي په دغسي نڅاګانو او سندرو په لسګونو زره ډالر مصرف کول، دهغه ولي پام نه شو چي ددغه لوی علمي مرکزي ليليه ترميم شي؟ هغه والي چي د ننګرهار د انحصار دعوه اوس هم لري هغه ولي دغه کار ونه کړ؟ او بالاخره اوسنی والي چي ځان په ننګرهاري ولس مين او ننګرهاری ولس په ځان مين ګني ولي يي يوه ورځ د ننګرهار پوهنتون د محصلينو د ژوند

د ستونزو پوښتنه ونه کړه؟ او تر ټولو ډېره بده چي د ننګرهار پوهنتون اوسنی او پخوانی رئیسان چي د خپلو چوکیو ساتلو غم نیولي ولي کومه ورځ د پوهنتون د لیلیي د ترمیم له پاره کوم کار ونه کړ؟

زما په نظر د ننګرهار پوهنتون د لیلیي ددغه بد حالت مسؤلین په لومړي قدم کي د پوهنتون عموني رئیس او د پوهنځیو رئیسان دي، دوېم قدم کي د لوړو زده کړو وزارت مسؤل دی او درېم داچي د ننګرهار پخواني او اوسنی والي ډیر مسؤل دی.

هلته دري نفره د لیلیي د پنځم بلاک مخکي ناست ؤ، لوبیا ورته ایښی وه، او ډېر اوبه پکي ولاړې وي، په خوند خوند يي خوړله، ډېر ټینګار يي وکړ چي ډوډی ورسره وخورو، د خدای پاماني مو وکړه او د پوهنتون دغه حالت مي اوس هم ځوروي.

سمه ده چي هلته نوي ودانی جوړې شوي، ځینو پوهنځیو له پاره نوي ځایونه او نوي تعمیرونه ودان شوي، او ځیني نور بلاکونه تر کار لاندي ؤ، مګرد محصلینو بد ژوند ته هغه ځواب نه شي ویلای.

د ګډ حکومت مشرانو هم د ټاکنو د کمپاین پرمهال د ننګرهار له خلکو سره ډول ډول وعدي وکړي، چي یو پکي د بهسودو د پل جوړول او ترمیم ؤ، نه به د بهسودو پل جوړ شي او نه به د ننګرهار پوهنتون لیلیه له بد حالت څخه وژغورل شي. خو که د ننګرهار خلک او د پوهنتون اداره متې پسي راونغاړي دغه دواړه کارونه کیږي.

***یادداشت:***

*ضمن ابراز تشکر از همکار گرامی ما آقای «مطمئن» به خاطر گزارش مستند و تأثر آور شان از وضع پوهنتون ننگرهار و لیلیهٔ آن باید بیفزائیم:*

*۱ - همان طوری که قبلاً نیز تذکر داده ایم، نه تنها جنایات و وطنفروشی های باند های خلق و پرچم هیچ ارتباطی به کمونیزم نداشت، بلکه چپاول و غارتگریهای باندهائی که بعد از سقوط حاکمیت مستعمراتی داکتر نجیب به قدرت رسانیده شدند، نیز هیچ ارتباطی با اسلام و اصل امانتداری در مال بیت المال از دید اسلامی نداشته است. چه هردو نیرو مزدوران و غلامان اجنبی بوده اند که جهت تحقق اهداف آنها فقط خود را ملبس به این ایدئولوژی و یا آن ایدئولوژی نمودند.*

*۲ - وضعیت کنونی حزن انگیز و تأثر آور کنونی پوهنتون ننگرهار و لیلیهٔ آن، می تواند به مثابهٔ «مشت نمونهٔ خروار» به شمار رفته، مبین وضع و حال یک کشوری باشد که در آن امپریالیزم و ارتجاع دست در دست همدیگر، به سرکوب و کشتار مردم آن اشتغال دارند.*

*در نتیجه آنهائی که از کشتن مردم آزاده مگر دردمند افغانستان سیری ندارند و روز تا روز بر میزان جنایات شان می افزایند، نمی توانند از چنان عرق ملیی برخوردار باشند که حفظ و نگهداری مالکیت جمعی ملت را، مقدمتر از حفظ و نگهداری خانهٔ شخصی خود بدانند.*

*۳ - این وضعیت تا زمانی همچنین ادامه یافته و بدتر از این هم خواهد شد، که مردم نیروهای اشغالگر و توله سگان مدافع منافع امپریالیزم را با طوفان خشم خود نیست و نابود ننمایند. به امید روزی که مردم زجر کشیده و دردمند ما، به پا خاسته با روبیدن شیدانی که هویت شان را به مانند درب اتاقهای شان «سرخ» و یا «سبز» رنگ نموده اند، افغانستان آزاد، مستقل و مرفه را بنیان بگذارند.*

***ادارهٔ پورتال AA-AA***